انجنيرسيد عبدالقادر


۱۱ اکتوبر ۲۰۱۱

## دمنځني ختيځ او شمالي افريقا دپاڅونونو احتمالي پايلي!

## دريمه برخه :

مخکي تر دې چې د منځني ختيځ او شمالي افريقاد پاڅونو نو داحتمالي پايلوپه هکله لږ څه مکث وکړو ، لازمه يي بولم چې دليبيا وروستنيو سياسي او جنګي حا لاتو ته لږ څه کتنه وکړو :

دليبيا پاڅون دفبروري پر ۱۵ مه نيټه شروع او ډيرژر دپا څون رهبري دغربي نړي واستخباراتي کړيو ته ولويدل ، څکه نو سم دلاسه يي دجنګ لاره غوره اوپر دولتي تسليحاتي مرکزونو باندي يي حملي شروع کړي ، څانونه يي نور هم مسلح او دبنغازي مهم ښار يي په خپله ولکه کيراوست ۰ او پسله ۱۲ ورځو څخه يي يعني دفبروري پر ۲۷ مه نيټه باندي يي ۳۱ کسيزه انتقالي شورا اعلان کړل ، څکه نو ددي څخه معلومه سول ، چې دا انتقالي شورا دپاڅون تر شروع د مخه دغربي نړي د کړيو سره په صلاح مشوره جوړه سوي وه ۰ او دغربي نړي ځينوهيوادونو ډير ژر دا شورا دليبيا قانونمنده شورا وبلل ، او دمارچ پر ۱۹ مه نيټه امريکا دامنيت دشورا د ۱۹۷۳ پريکړه ليک تحريف او دليبيا مستقل هيواد يي تر سختو هوايي او مځکنيبماردونو لاندي راوست ۰ ولي امريکا ډير ژر دخپل اقتصادي سخت بحران له کبله ، دا دروند اود بشري جناياتو څخه ډک بار دناټوپر اوږو باندي کښيښوي ۰چې دمارچ د۱۹ مينيټي څخه بيا د(اګست تر ۲۹ مي) نيټي پوري دليبيا پر هيواد باندي دناټوديرغلګر ځواک له خواه (۲۰ زره او۹۸۰)هوايي پروازونه سرته رسيدلي ، چې ددي جملي څخه دځينو رسنيو په حواله (۷۸۸۶) يي جنګي پروازونه بلل سوي دي.

چې دهر پر واز په ذريعه څلور توغوندي دليبيا پرخلکو باندي اوريدلي دي ، که دهري توغوندي په پايله کي يوازي دوه کسه په شهادترسيدلي وي ، نو د۸۰۰۰ پروازو نو توغوندي چې ۳۲۰۰۰ ته رسيري ، حتمي ده چې پايله کي به يي لږ تر لږه ۶۴۰۰۰ کسه په شهادت رسيدليوي. چې دزرهاوو کرونز مځکنيو توغونديوداوريدوشميرنه او دهغو څخه پاته بشري تلفات لا په ريښتينه توګه تر اوسه پوري نه دي په ګوته سوي . په داسي حال کي چې دليبيا دسيرت او بن وليد پرلويو ښارونو باندي تر اوسه پوري هم دناټو دجنايتکار ځواک له خواه دا دبشري اواقتصادي جناياتو څخه ډکه لړي روانه ساتلسوي ده . په لنډ ډول سره بايد ووايو که دامريکا تر رهبري لاندي ناټو دخپلو جناياتودتر

سره کولو په پایله کي ودې ته وتوانیدله چې پر تولنه لیبیا باندي خپله استعماریکړی راوګرزوي ، نو نه یوازي به د لیبیا (دپینځنیم میلیونه) ولس (۱۴۵) میلیارده بیلره تیل په خپل واک کي راولي ، بلکه د بیا جوړوني استعماري ساختماني شرکتونو له پاره به هم دلسو کلونو له پاره دکار او چورو چپاول زمینه برابره سي . ولي داسي معلومیږي چې د ناټو چاړواکي به ددې خیالي خوب څخه کومه سمه نتیجه تر لاسه نه کړي . داځکه چې لیبیا یې دخپل یرغل په نتیجه کي یوه داخلي جنګ ته ور ننه ایستل . چې نه یوازي دقذافي دمسلحوپلویانو او دناټو دانتقالي شورا دشورشي پلویانو تر منځ دشپړو میاشتو را په دې خواه جګړه روانه ده ، بلکه دانتقالي شورا دغړو دپلو یانو تر منځ دچوکیو او غنیمتونو پر سر هم جګړه پیل سوي ده ، ځکه نو دناټو انتقالي شورا دخبري رسني و په وړاندي دڅو ځله ویلو سره سره بیا هم وي نه کړایسواي چې په اصطلاح خپله کابینه اعلان کړي . او ورځ په ورځ ددوي تر منځ اختلافات اوجګړه مخ پر پراختیا روانه ده .

که دبله اړخه دامریکا ترمشري لاندي دناټو د نا سالم سیاسي تعقل اوهم د ۲۱ مې‌پیړي دولسونو د هیلو څخه لیري او ددوي دنوي استعماري هلو ځلو ته په لږ دقت سرهوګورو ، په ښکاره ډول معلومیږي چې په څونه ظلم ا وجبر باندي دنورو ولسونو شتمني په خپل واک کي راولي . په داسي حال کي چې د دوي په دې طفلانه سیاستونو باندي اوس دنړي دهر ګوټ ولس په پوره پیمانه سره پوهیږي . ځکه نو پس له دو و لسیزو څخه دامپریالستي نړي دجنایاتو څخه ډک اصلي مخ په ښکاره ډول دنړي ولسونو ولیدي ، اودې ولسونو نور ونه کړایسواي ، چې دا د ظلم او جبر پیټي نور هم د امپریالستي نړي سره دیوه بي وسه نوکر په توګه انتقال کړي. ځکه نو دفبروري دمیاشتي راپه دې خواه لومړي په شمالي افریقا کي اوبیا سم دستي دعربي نړي په یو شمیرنورو هیوادونو کي ولسي پاڅونونه شروع سول. چې په پایله کي یې دتونیس او مصر حاکمیتونه چپه سول ، ولي دانقلابینو غوښتني لاتر اوسه نه دي پوره سوي ، ځکه نو د ولسونو انقلابي مبارزه نوره هم مخ په وړاندي ځي.

په واقعیت کي دعربي نړي پاڅونو امریکا او غربي استعماري نړي سخته وارخطا کړي ده ، که دیوه طرفه ددوي صیهونیستي حاکمیت دسختوګواښونو سره مخامخ سوي دي ، دبله طرفه بیا په عربي نړي کي دامریکا او غربي نړي پلوي پاچاهان او امیران هم د ولسي پاڅونو سره په جګړه کي اخته سوي دي. او داسي معلومیږي چې کرار کرار به یو په بل پسي دتونیس او مصر په څیر دچپه کیدو خواهته نیژدي کیږي. په داسي حال کي چې په عربي نړي کي دغربي استعماري شرکتونو پلوي حاکمیتونه دچپه کیدو پر خواه روان دي ، ولي دبل اړخه بیا د امریکا او غربي نړي هیوادونه دبي ساري اقتصادي بحران سره لاس او ګریوان دي. اوداسي معلومیږي چې امریکا او دناټو نور هیوادونه دخپلو اقتصادي بحرانونو دمخ نیوي او هم دعربي پاڅونو نو د خپلو په مخه پر لیبیا باندي دامنیت دشورا د مارچ د۱۷ مي نیټي د۱۹۷۳ پریکړهلیک څخه په ښکاره سر لغړونه او تحریف سره یرغل وکړ ، اودملکي خلګو دساتني تر نامه لاندي یې په لس هاوو زره بي ګناه انسانان په شهادت رسولي او د لیبیا دولس هر څه یې د نابودي سره مخامخ کړل .

او بیا هم ناټو ددې جنایاتو سره سره بل خپل مخالف هیواد یعني دسوریې حاکمیت یې هم تر سیاسي فشارونو او مداخلو لاندي نیولي دي . او د سوریې د دولت دمخالفینو سره په یوه اوبل شکل پټ او ښکاره کومکونه تر سره کوي ، څو دلیبیا په څیر ځانته دیرغل زمینه برابره کړي. ولي خوشبختانه دامنیت په شورا کي دسوریې دهیواد په وړاندي دغربي نړي لومه ( پریکړه لیک) دروسیې او چین له خواه د ویټو سره مخامخ سوو ، چې د دوي دا کړنه د امریکا اوغربي نړي دسختو غبرګونو سره مخامخ سوله . داسي معلومیږي چې په عربي نړي کښي دامریکا اوغربي نړي ناکامه او دسالم تعقل څخه لیري سیاست نور ځاي نه لري . او امپر یالستي سرمایه داري سیستم ددې

پر ځاي چی خپله ماته قبوله او شاته تگ وکړي ، ولي د دري ژبي په اصطلاح ( فراربه جلو) سیاست مخ ته بیایي ، چی دلیبیا پر مستقل هیواد باندي ددوي یرغل یي ښکاره بیلگه ده .
دشمالي افریقا او عربي نړي ولسي پاڅونونودنړینورو ولسونو ته هم دجرئت او هم بستگي پیغامونه ورسول . ځکه نو نن دنړي وهر گوټ ته ددوي ړغ رسیدلي اوتاثیرات یي غځید لي دي ، چی ښه مثالونه یي د یونان ، پرتگال ، هسپانیي ، ایټا لیا او انگلیستان هیوادونو کي ، دخلگو مظاهري اود څو اونیو راهیسي بیا دامریکا په مختلیفو نیژدي ۶۰ ښارونو کښیدوالسټریټ ومخ ته هم مظاهري او غونډیرواني دي او خپلي غوښتني (دکار پیدا کول، دمالیي کمول ، د صحیي بیمي پیدا کول) تر شعارونو لاندي بیانوي ، او هم دارنگه دافغانستان او عراق څخه دامریکایي پوځیانو بیرته ستنیدل هم ددوي په غوښتنو کي شاملدي ، چی په ځینو سیمو کي دپولیسو دسختو غبرگونو سره هم مخامخ سوي دي . باید ووایو چی دنړي داپاڅونونه د کار او سرمایي تر منځ دنه پخلا کیدونکي تضاد یوه قانونمنده پایله ده ، چی کارگر ته یوازي دلازم کار وجوره ورکول سوي او د اضافي کار ټول اضافي ارزش یوازي دسرمایداروجیب ته لویدلي ، او په لوړه مانۍ کي یي ځانته ځاي جوړ کړي دي . ولي دکارگر ژوندیي بیا دگواښونو سره مخامخ کړي دي . او داسي معلومیږي چی امریکا او غربي نړي ډیر وارخطایي او نا عاقلانه سیاست له کبله په راتلونکو وختونو کي به په عربي نړي کښي دخپلي دوستي لپاره د ولسونو په منځ کي کوم ځاي ونه لري . او ددغسي یوه ښکاره سیاسي ماتي تلافي به ددوي لپاره دامکانه څخه لیري خبره وي . دغربي نړي دا ناکاره او بشروژونکي سیاست روسیي او چین ته دا زمینه مسا عده کړله چی دهغوي دنفوذ ساحه په عربي نړي کښي پراخواليومومي ، که دیوه اړخه دلیبیا د کړکیچن حالت په وړاندي دروسیي سیاسي هلي ځلي اوهم په ځانگړي توگه دسوریي په وړاندي دغربي نړي دپریکړه لیک په هکله دروسیي او چین له خواه څخه دویټو دحق څخه گټه اخستل په نظر کي ونیول سي ، نو ښکاره خبره ده چی نه یوازي ددوي دا کړنه دعربي نړي په ولسونو کي یي ښه انعکاس موندليدي ، حتمي ده چی دنړي په پراخو ولسونو کښي به یي هم ښه تاثیرات ښندلي وي .
او هم دارنگه د عربي نړي دپاڅونو په وړاندي دامریکا او غربي نړي دوه مخي سیاست عربي ولسونو ډیر ژر درک کړي او د پاڅونونو دڅومیاشتو په اوږدو کي دي پاڅونوالوکوښښ کړي دي چی دامریکا او غربي نړي په لومو کي بند نه سي . گرچه دا پاڅونونه تر اوسه پوري وخپلو مخو ته نه دیرسیدلي او دخپلو غوښتنو دپوره کولو له پاره د ډیري زیاتي بشری قربانیو سره سره مخپه وړاندي خي ، ولي داهم یو حقیقت دی که هر څونه دعربي نړي پاڅونونه دخپلو نامشروع حاکمیتونو له خواه ډیر و قربانیو او سختوغبرگونو سره مخامخ کیږي ، په هغه اندازه ددي ولسونو تنفر او نفرت دامریکا او غربي نړي په وړاندي پیداکیږي . چی ښه بیلگي یي دمصر، یمن او بحرین دامریکایي پلوه حاکمیتونو په وړاندي دولسونوتنفر اوقرباني دي ۰

اخځ : ریا نوستي تمت باالخیر